د لنین دا بشپړ نقل چې د سازمان د «کړنلارې» په متن کې یې ځایول ناشوني و، د بیاکتنې په غونډو کې د ملګرو ترمنځ وېشل شوی و. د دې نقل د بې‌ساري ارزښت له امله دا دی اوس یې په جلا ډول خپروو ترڅو ټول ترې ګټه واخلي.

# د ملي لږکیو په اړه د لنین د ښوونې ستر ارزښت



لنین د ۱۹۲۲ کال د ډسمبر په ۳۱مه، ګوند ته په خپلو وروستیو سپارښتنو کې د ملي لږکیو د مسئلې د ستر ارزښت او په دې اړه د کمونیستانو د دریځ په پام کې نیولو سره، د ګوند د ځینو

نومیالیو مشرانو[1] پر هغو عملي تېروتنو چې د ملي مسئلې او په هغو سیمو کې د دې مسئلې د هواري چارې ورترغاړې وې چې ملي لرکي پکې اوسېدل، د سختې نیوکې ترڅنګ په ټینګه خبرداری ورکړ:

«ما د ملي مسئلې په اړه په خپلو لیکنو کې ویلي دي چې د ناسیونالیزم د مسئلې په هکله په ټولیزه توګه مجرد بحث هېڅ درد نه دوا کوي بلکې باید د ستمکوونکي ملت د ناسیونالیزم او د ستمکښ ملت د ناسیونالیزم، د لوی ملت د ناسیونالیزم او د کوچني ملت د ناسیونالیزم ترمنځ توپیر وشي.

موږ د لوی ملت ناسیونالان، د تاریخ په بهیر کې نږدې تل د دویم ډول ناسیونالیزم پر وړاندې ملامت وو ځکه چې بېکچې او بېشمېره تېري مو کړي دي او آن تر دې چې کله ناکله بې له دې چې پخپله پرې پوه شو پر نورو بېحده تېری او سپکاوی کوو. دا بسنه کوي چې د ولګا د سیمې خاطرې مې را په یاد کړو، هلته مې لیکلي دي چې د غیرروسي ملیتونو له وګړو سره څنګه سپکوونکی چلند کېږي: پولنډي ته «بدپولنډی»

---

۱ –د لنین نیوکې تر ډېره د ګوند د ځینو مشرانو لکه ګریګوري اورژونیکیدزه، جوزف ستالین او فلیکس ژرژینسکي په منځ کې د روسي ستر شوونیزم ته متوجه وې. (ژباړن)

وايـي، تاتـار تـه پـه ملنډو «شـهزاده» وايـي، اوکراينـي تـه «بَبَـو» وايـي او ګرجيانـو او د قفقـاز نـورو اوسـېدونکو تـه «قاپبـان» وايـي.»

لـه همـدې املـه د سـتمکوونکي ملـت يـا پـه اصطـلاح د «لـوی» ملـت لـه خـوا نړيوالپالنـه (انټرناسـيوناليزم) بايـد د ټولـو ملتونـو د ظاهـري برابـرۍ د مراعاتولـو ترڅنګ داسـې نابرابـري هـم پـه ځـان کـې ولـري چـې د هغـې لـه مخـې سـتمکوونکی ملـت يعنـې لـوی ملـت وکـولای شـي هغـه نابرابـري جبـران کـړي چـې پـه عملـي ژونـد کـې يـې وينـو. (آن کـه د يـوه ملـت لويوالـی يـوازې د هغـه د زورواکـۍ لـه املـه وي لکـه د زورواکـو د لويوالـي پـه څېـر.) څـوک چـې پـر دې ټکـي نـه پوهېـږي د ملـي مسـئلې پـه اړه رښـتينی پرولتـري دريـځ يـې نـه دی درک کـړی او پـه حقيقـت کـې لا هـم د کوچنـۍ بـورژوازۍ پـر نظرياتـي دريـځ ولاړ دی، لـه همـدې املـه پـه هـره شـېبه کـې د بـورژوازي ليدلـوري پـر لور د ورښـوويېدو لـه ګـواښ سـره مـخ دی.

پرولتـر تـه کـوم ټکـی مهـم دی؟ پرولتـر لپـاره نـه يـوازې مهم بلکـې خـورا اړيـن دي چـې د پرولتاريـا د طبقاتـي مبـارزې پـه تـرڅ کـې پـه هېـواد کـې د مېشـتو نـورو مليتونـو د وګـړو تـر ټولـو لـوړه کچـه بـاور خپـل لـوري تـه راجلـب کـړي. د دې کار لپـاره څـه تـه اړتيـا ده؟ يـوازې ظاهـري برابـري بسـنه نـه کـوي، بلکـې بايـد د خپـل چلنـد او يـا هـم د نـورو مليتونـو د

وګړو په ګټه د خپلو امتیازونو د پرېښودلو له لارې هغه بې‌باوري، بدګوماني او خپګان چې د تېر تاریخ په بهیر کې د «عظمت غوښتوونکي» ملت د دولت د کړنو له امله په هغوی کې رامنځته شوي دي، باید جبران یې کړي.

زما په اند، بلشویکانو او کمونیستانو ته د دې ټکي د لا زیات او هر اړخیز وضاحت اړتیا نشته. زما په باور، په تر بحث لاندې مسئله یعنې د ګرجیانو د مسئلې په اړه له یوه بشپړ او روښانه بېلګې سره مخ یو. په دې مسئله کې که غواړو چې زموږ چلند په رښتیا پرولتري وي نو باید د ډېر احتیاط، ځیرکتیا او تېرېدنې له مخې عمل وکړو. هغه ګرجی چې دې مسئلې ته ارزښت نه ورکوي او په سپکاوي سره د «سوسیال ناسیونالیزم» تور لګوي او (حال دا چې پخپله نه یوازې رښتینی او اصلي «سوسیال ناسیونالیست» دی، بلکې یو توندخویه روسی زورواکی هم دی) په حقیقت کې د پرولتاریا د طبقاتي پیوستون ګټو ته شا کوي، ځکه هېڅ شی د ملي بې‌عدالتۍ په څېر د پرولتاریا د طبقاتي پیوستون د پرمختګ او پیاوړتیا مخه نه نیسي او د «خوابدو» ناسیونالانو لپاره هېڅ شی د برابرۍ د احساس او د هغې د تر پښو لاندې کولو په څېر حساسیت پاروونکي نه دي، آن که دا نالنډول د بې‌پروایۍ له مخې، د ټوکې په بڼه او یا د دوی د خپلو پرولتري ملګرو له خوا هم رامنځته شوې وي. له همدې

املـه، پـه دې برخـه کې لـه ملي لږکيـو سـره پـه تېرېدنـه او نـرم چلنـد کې تـر حـده زياتوالـی، تـر دې غـوره دی چې پـر هغې سـترګې پټې شـي. نـو پـه دې مسـئله کې د پرولـتري پيوسـتون بنسـټيزې ګټې او پـه پايله کې د پرولتاريا طبقاتي مبـارزه دا ايجابـوي چې مـوږ هېڅکلـه د ملـي مسـئلې پـه اړه ظاهـري او تشـريفاتي چلنـد ونـه کـړو بلکې تـل د سـتمګنې (يـا کوچنـي) ملـت د پرولتـر او د سـتمکوونکي (يـا لـوی) ملـت د پرولتـر ترمنـځ حتمـي توپيـر پـه پـام کې ونيسـو.»

# د افغانستان رهايي سازمان

www.rehayi.org
rehayi@yahoo.com